ورځپانه
# هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز | یکشنبه د شوال المکرم ۱۷ مه ۱٤٤٤ ق کال | دغويي ۱۷ مه ۱۴۰۲ ل کال | دمي ۷ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي گڼه ۳۲ مه | پرله‌پسې گڼه ۱۲۲ مه ، اتمه دوره

## په هلمند کې د ۹۳ ښوونځیو ودانۍ رغول کېږي



د هلمند د پوهنې ریاست مسئولین وايي: د روان کال په اوږدو کې به په‌دې ولایت کې ۹۳ ښوونځیو ته ودانۍ ورغوي. د دغو مسئولینو په خبره، واک ته د سرپرست حکومت له رسېدو راهیسې یې په هلمند کې ۳۲ ښوونځي رغولي او دغه بهیر به دوام ولري. ورته مهال، یو شمېر زده‌کوونکي هم له افغان حکومته د دوی د ښوونځیو د بیارغونې غوښتنه کوي، څو په ارامه فضا کې زده‌کړو ته دوام ورکړي. د هلمند د پوهنې ریاست د معلوماتو پر بنسټ، اوس‌مهال په‌دې ولایت کې ۴۱۹ ښوونځي شتون لري ،چې له دې منځه ۲۳۴ ښوونځي ودانۍ نه‌لري.

### افغان حکومت:
## د ریچارډ بنټ راپور بې بنسټه دی

د ملگرو ملتونو ځانگړي ریپورټر ((ریچارډ بنټ)) افغانستان ته له راتگ وروسته په خپل راپور کې ویلي ،چې په افغانستان کې په کم عمر او

اجباري ډول د نجونو ودېدل زیات شوي، د زده کړو او کار حقونه ترې اخیستل شوي او د بېلابېلو محدودیتونو او تاوتریخوالي له کبله د مېرمنو

ځان وژنې ډېرې شوې دي.خو د اسلامي امارت مسئولینو د ملگرو ملتونو د ځانگړي ریپورټر ((ریچارډ بنټ)) وروستی راپور رد کړ.د اسلامي امارت د ویاند



مرستیال بلال کریمي رسنیو ته په رالېږلي پیغام کې ویلي، له کله چې اسلامي امارت بیا په ټول افغانستان واکمن شوی، د ټولو اتباعو حقونه د شرعي اصولو په رڼا کې خوندي او په ټول هېواد کې بشپړ امنیت او ثبات تامین شوی دی.کریمي زیاتوي ،چې د اسلامي امارت له لوري د ټولو افغانانو بشري حقونه تامین او په دې اړه خپاره شوي راپورونه حقیقت نه لري.(( د اسلامي امارت په راتگ سره عیني واقعیتونه دا دي، چې په ټول هېواد کې امنیت او ثبات تامین شوی او د ټولو اتباعو حقونه د اسلامي اصولو په رڼا کې خوندي دي او اسلامي امارت په دې برخه

...۵مخ

### ملگري ملتونه:
## په افغانستان کې خپلو کارونو ته دوام ورکوو

ملگري ملتونه وايي: په افغانستان کې پرشته ستونزو سربېره له افغانانو سره خپلو مرستو ته دوام ورکوي، خو د افغان حکومت بندیزونه د دوی فعالیتونه ټکنۍ کوي. ملگرو ملتونو په یوه بیان کې، چې ورمه ورځ یې خپور کړ دا هم ویلي، چې دوی د افغان حکومت له چارواکو سره خپلو تماسونو ته ادامه ورکوي ، تر څو د ملگرو ملتونو په ادارو کې ښځینه کارکوونکو ته د کار اجازه ورکړي. افغان حکومت تېره میاشت د ملگرو ملتونو له ادارو څخه ښځینه افغان کارکوونکې تر آمر ثاني پورې له کاره منع کړې او په ځواب کې یې ملگرو ملتونو خبرداری ورکړ چې د مې تر پنځمې به خپل دریځ روښانه کړي ،چې په افغانستان کې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي که یې بند کړي.



### بلاول بوټو زرداري:
## نړیوال دې له افغان حکومت سره تعامل وکړي

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر بلاول بوټو زرداري د شانگهای د همکاریو سازمان د بهرنیو چارو د وزیرانو په غونډه کې په خپله وینا کې د افغانستان وضعیت ته




په اشارې سره له دغه هېواد سره د نړیوالې ټولنې د تماسونو دوام د ارزښت وړ وباله. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر زیاته کړه، له دې وروسته، چې افغانستان په ځلونو د سترو قدرتونو د لوبې ډگر گرځېدلی دی، موږ د افغانستان له خلکو سره د پخوانیو تېروتنو...

۵مخ

## ترکمنستان به یک مرکز صحی در ولایت هرات ادویه و تجهیزات طبی کمک کرد

کشورترکمنستان یک محموله مواد طبی را به زایشگاه مرکز صحی شهرک تورغندی ولایت هرات کمک کرد.این محموله کمکی که شامل ۳۷ قلم دوا و تجهیزات طبی می‌باشد که بنا به درخواست مسئولین صحی ولایت هرات، به این مرکز کمک شده است.آی‌مراد قوچ مرادوف؛ سرکنسول ترکمنستان در ولایت هرات، می‌گوید که در آینده نزدیک، کمک‌های بیشتر این کشور به زایشگاه مرکز صحی شهرک تورغندی خواهد رسید.

مرادوف افزود: قرار است در آینده نزدیک، شماری از داکتران و متخصصان کشور ترکمنستان در بخش‌های نسایی ولادی و اطفال، به مدت یک ماه به این مرکز اعزام شوند. او گفت: (( امروز خرسند هستیم که این کلینک نه تنها به شهرک تورغندی ، بلکه به تمام باشنده‌گان

...ص۵



## افغان او پاکستاني چارواکو د سوداگریزو اسانتیاوو په اړه بحث وکړ



د صنعت او سوداگرۍ وزارت سرپرست نور الدین عزیزی پاکستان ته د خپل سفر په ترځ کې د یاد هېواد د تجارت له وزیر سید نوید قمر سره کتلی دی.په اسلام آباد کې د افغانستان د سفارت پر ټوېټرپاڼه لیکل شوی، چې دواړو لورو په دې لیدنه کې د سوداگریزو اړیکو پر پراختیا بحثونه وکړل.د سرچینې د معلوماتو له مخې هغوی ویلی، هڅه کوی ، چې د کابل او اسلام آباد ترمنځ د سوداگرۍ په

...۵مخ

## سرپرست وزارت صحت عامه کشور با معاون رئیس جمهور ایران ملاقات کرد

قلندر عباد، سرپرست وزارت صحت عامه کشور که روز جمعه به ایران سفر کرده بود، در روز نخست سفرش با انسیه خزعلی، معاون رئیس جمهور آن کشور ملاقات نموده است.وزارت صحت عامه کشور، با نشر یک اعلامیه گفته است که در این دیدار در مورد گسترش روابط دوجانبه در بخش صحت، به‌خصوص در زمینهٔ افزایش ظرفیت کارمندان صحی، همکاری در بخش تداوی و تشخیص سرطان و شریک ساختن تجارب، بحث شده است.قرار است سرپرست وزارت صحت عامه، در جریان سفرش به ایران، در نشست گروه پنج کشور های منطقه (G۵) اشتراک کند. از سویی هم او با مقام‌های صحی ایران نیز دیدار و گفتگو خواهد کرد.



### د ارزگان او سپېدونکي:
## روغتیایي مرکزونه مو اړتیاوې نه شي پوره کولای

دارزگان په یو شمېر لرې سیمو کې خلک شکایت کوي چې روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی نه لري او له ډېرو ستونزو سره مخ دي. که څه هم چې په ارزگان کې دامهال په مرکز او ولسوالیو کې ۵۶ روغتیایي مرکزونه شتونه لري، خو ددې ولایت ځایي اوسېدونکي وايي: شته روغتیایي مرکزونه د خلکو اړتیاوې نه شي پوره کولای .اغاجان چې اصلي دارزگان د بلاغ د سیمې اوسېدونکی دی او دامهال یې خپل ناروغان د ترینکوټ ولایتي روغتون ته راوړي دی غوښتنه کوي ،چې د دوی په سیمه کې دې ورته روغتیایي مرکزونه جوړ شي.ده وویل: (( زموږ په سیمه کې که روغتون وي ، نو ډاکټران نه لرې ډېر ناروغان دلته راځي موږ د عامې روغتیا

...۵مخ

## د سېلابونو له امله ۲۹ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې

سختو اورښتونو او سېلابونو ورمه ورځ د ننگرهار په مرکز او ولسوالیو کې خلکو ته پر ځانی زیان سربېره، مالی هم زیانونه اړولی دی.د ننگرهار د طبیعی پېښو په وړاندې د مبارزې مرستیال ادریس ساپی رسنیو ته ویلی، په مرکز جلال اباد ښار، گوشتې، کامې، کوز کونړ، کوټ، بټی کوټ او یو شمېر نورو ولسوالیو کې د اورښتونو له کبله سېلابونه راغلی ،چې ځایی خلکو ته یې د سر او مال زیان اړولي دی.نوموړی زیاتوی ،چې د یادو سېلابونو په پایله کې په کامې ولسوالۍ کې د یوې کورنۍ څلور غړی وژل شوی او دغه راز د یادې ولسوالۍ په مختلفو سیمو کې ۲۵ کسان د سېلابونو له امله ژوبل شوی دی.بله خوا، سېلاب ځپلې کورنۍ شکایت کوی ، چې د سرپنا، څښاک اوبو او خوراکی توکو له نشت سره مخ دی، خو تراوسه ورسره مرستندویو ادارو مرسته نه ده کړې.د نوموړی په خبره، د سېلاب ځپلو کورنیو سروې یې پیل کړې او له ځینو سره یې عاجلې مرستې هم شوې دی.






# اسلامي امارت او د هیواد د پرمختګ لپاره هڅې!

د اشــغال په شــل کلنه توره دوره کې واک ته رسـېدلي هر حکومت له ملــت سره پر خپلو پښــو د ولاړ هیواد د جوړولو شــعاري او کمپاینې ژمنــې کړې؛ خو د ملت دغه خوب تــه هیڅ رژیم تعبیر نه دی موندلی، بلکې د هر افغان دا پوښــتنه چې موږ به کله د پرمختللي هیواد څښتنان شو؟ بې ځوابه پاتې ده.

په تېرو شــلو کلونو کې پــه دې برخه کې یوه عمده ســتونزه په پردیو اســتعماري مرســتو اتکا وه، چې مــوږ یې د نړۍ د تمــدن او پرمختګ له کاروان څخه ډېر وروســته پاتې کړو. نړیــوال زبرځواکونه که څه هم بشریت سره د مرســتو تر خواږه او غوړ عنوان لاندې له مســتعمره هیوادونو سره مرســتې کوي، خو دغه مرســتې لنډ مهالې وي او یوازې ددې لپــاره کیــږي، چې ددغه هیــواد خلک د ځان ملګــري کړي او د مبارزې او ازادۍ روحیه یې ووژني.

په تېرو شــلو کلونو کې افغانستان ته د مرستو په نامه ډېرې زیاتې پیسې راوړل شوې، خو د دې پرځای چې پر زیربنا او سترو پروژ ولګول شي، ځینــې لنډمهالې پروژې تــر کار لاندې ونیول شــوې او دغه راز ډېرې یــې د څو ضمیر پلورونکــو جیبونو ته لاړې. دغو مرســتو نه یوازې د افغانانو اســاسي ســتونزې حل نه کړای شــوې، بلکې په موږ کې یې پر ځان د ویســا او باور شــته انرژي هم له منځه یو وړه او تل یې بل ته د لاس نیولو له سپیره خوی سره عادت کړو.

اوس چې الحمدلله د اشــغال تغر ټول شــوی او هیــواد ته مو آزادي او خپلواکي راغلې، افغانــان امید لري، چې د هیواد د رغونې او پرمختګ هیله به یې هم پوره شي. هو، دا هیله به یې ان شــاء الله تعالی پوره شي؛ خو هغــه مهال چې موږ هغه ســتونزې او چلنجونه لومړی درک او بیا یې د له منځه وړلو په لاره کې نه ســترې کېدونکې هڅې وکړو، چې پر خپلو پښــو یې د هیواد د درېدو مخه نیولې.

واک ته له رسېدو سره سم اسلامي امارت د هیواد د پرمختګ او پرځان بســیاینې لپــاره یو لړ مهمــې او زیربنایي پروژې تــر کار لاندې نیولې، وړمه ورځ د وســپنې پټلۍ اداري خبر ورکړ، چې اقتصادي کمېســیون هغه طرحه تایید کړه چې پر بنســټ یې د مزارشریف- هرات اوکندهار ترمنځ د ۱۴۶۸کیلومترو په اوږدوالي د ریل پټلۍ جوړېږي، ټاکل شــوې ده چې دغه مهمه او بنسـتیزه پروژه به د درېو کلونو په موده کې بشپړه شي. د اقتصادي چارو شــنونکي په دې بــاور دي، چې دغه پروژه به نه یــوازې د انتقالاتو مصرف راکم کړي، چــې ورسره مخامخ د توکو بیې ټیټېږي، بلکې افغانســتان به د ســیمه اییز اتصال په برخه کې هم چټک ګامونه پورته کړي.

حکومت مســئولیت لري، چې د نړۍ او ســیمې هیوادونه په دې خبره قانع کړي، چې افغانســتان بې عوضه مرســتو ته نه، بلکې مشارکت ته اړتیا لري، هغــوی باید دلته موږ سره د نړۍ د نــورو هیوادونو په څېر توافقــات وکــړي او دا چاره به یوازې موږ نه دوی تــه هم ګټوره تمامه شي.

دغه راز د حکومت دنده ده چې د کرنې او مالدارۍ ســکتور ته لا ډېره پاملرنــه وکړي، د اوبو د مهارولو، د بربښــنا د تولید او د پراخو ځمکو د خړوبولــو لپاره لنډمهالي او طویل المدت پلانونه جوړ او تطبیق کړي. پــه کور دننه او بهر خپلو تولیداتو او محصولاتو ته د ښــه بازار موندل هم د حکومت دنده ده.

د ملت ټولو افرادو او په ځانګړې توګه نوي نســل ته د تعلیم او تحصیل مناســب چاپېریال او اســانتیاوې برابرول هم ډېر مهــم دي؛ ځکه چې لــه دې پرتــه د پرمختګ او پر ځان بسـیاینې قافله خپــل منزل ته نشي رسېدلی.

ملت هم دنده لري، چې له اســلامي امارت څخه کلک ملاتړ وکړي،او د ځینو رســنیو له غرضي او خود ساخته افواهاتو او تبلیغاتو متاثر نشي. نــوی افغان حکومت که څه هم تراوســه پورې نړۍ په رســمیت نه دی پېژندلــی او له یو لړ اقتصادي او ســیاسي فشــارونو سره هم مخ دی، خو بیــا هم د هغو ســترو اقتصادي پــروژو پیل او تکمیل ته ژمن ښــکاري، چې هیواد مو پر پښــو دروي.لنډه دا چــې اوس د ټلپاتې ثبات، اقتصادي پرمختګ او پر ځان د بسـیا افغانســتان لپاره ښــه فرصتونــه رامنځته شــوي، اســلامي امارت باید له دې فرصتونو په ســالمه توګه ګټه پورته کړي، نړۍ او په ځانګړې توګه د ســیمې له هیوادونو سره ښې اړیکې وپالي او د پانګونې او ســیاسي ملاتړ د جلبولــو لپاره ډیپلوماتیکې هڅې څو برابره زیاتې او منسجمې کړي.

# د امن اوثبات په ټینګښت کې د مطبوعاتو رول

**شریف حسین حیدري**

له شك پرته چې ملي او اسلامي ارزښــتونوته ژمن مطبوعات د یــوې ټولنې ســترګې ،غوږونه او ژبــه را نغاړي ، کــه په یوه ټولنــه کــې د مطبوعاتو رول کمزوری او یاهم تر سانســور لانــدې وي ، نو هلتــه ولس د کنو،ړندو او ګونګیانــو پــه څېــر ژونــد کوي.مطبوعات نه یــوازې دا چې د یوې ټولنې په یومشــخص ډګر کــې مهم رول لوبوي بلکــې د ټولنې په ســیاسي،اقتصادي،فرهنګي او ټولنیزې ودې کې هم رغنده او مثبت رول لوبوي،که چېرې په یوه ټولنه کې مطبوعات ازاد او فعال وي، نو پرته له شکه چې هلته به هــر اړخیزه وده روانه وي او کــه چېــرې مطبوعات د سانســور په کړۍ کې ایسار وي او یا هم په یونه یو شــکل سره درســنیو آزادي محــدوده وي، نوهلته بیاد ژوند په ډېرو ډګرونوکې ســتونزې موجودې وي.

منځپانګه: تاسو فکر وکړئ په مادي لحــاظ د یوځه جوړول هومــره ســتونزمن کار نه دی لکه په معنــوي لحاظ د یوځه جــوړول د بېلګــې پــه توګه دیله، ســړك یــا تعمیر جوړول دومــره ګران کار نــه دی لکه په ماناوي لحاظ چې یو انسان جــوړوي یعنــې یو ګلــکار یا انجنیرکــه پــه فزیــکي لحاظ یوپل جوړوي، نــو مطبوعات پــه ټولنه کې په مســتقیم ډول د یو انســان په مغزو کار کوي او په معنوی لحاظ انســان تر جوړونــې لانــدې نیسي، پل، ســړك یا تعمیر کــه وران شي، نو جوړ به شي خو که انســان



پــه معنوي لحاظ خام شي نوبیا یې پخــول او جوړول ګران او ســتونزمن کار دی، لــه همدې ځایه انســان ته پــه ټولنه کې دمطبوعاتــو رول او ارزښــت له ورایه مالومېږي، یانې همدا مطبوعات دي چــې په خلکو کې سیاسي،فرهنګي،اقتصادي او ټولنیــزه ویښــتیا پیدا کوي او ددوی اذهان تنویر وي کله چــې په خلکو کې یاده شــوي روحیــه او ویښــتیا پیاوړې او ذهنــي تنویر پــه وجود راشي ، نــو طبیعي ده چــې هلته به د ډېرو انسانانوحقوق خوندي او ساتلي وي،شك نه شته چې امن او آرامي په یوې ټولنه کې هر ډول ودې او ترقۍ ته لار هوار وي، نو دا د مطبوعاتو رسالت هــم دی چې لــه خلکو سره د امن او ارامۍ په لاره کې داسې همکاري وکــړي چې خلك په رښــتیا هم مطبوعاتو ته دخپلو هیلو او ســتونزو د هنداري په ســترګه وګوري، یانې ارامي په هیــواد کــې د ودې،پراختیا او ولســواکۍ بنســتیز شرط دی، مطبوعــات کــولی شي چــې د مثبتــو تبلیغاتو لــه لارې خلك د ســولې او آرامۍ پر ارزښت وپوهــوي. کله چې انســان د یوڅه پر ارزښــت وپوهېږي، نوبیا هېڅکلــه نه غواړي چې هغه له لاســه ورکړي او همدا ډول کــولی شي چــې د جنګ او جګــړې تاوانونه خلکو او ټولنــې ته په ګوتــه کړي، خو پــه دې شرط چــې مطبوعات هم پرتــه له هــر ډول تبعیضه خپل درونـد او ژور مســئولیت ادا کړي،په اوســني وخت کې مطبوعــات د یــو دیموکــرات دولت څلورمه قوه تشکیلوي. یعنــې کــه چېــرې دولــت مقننه،اجرایه او قضایي قواوې ولري، خو چــې مطبوعات یې آزاد او خپلــواك نه وي دولت بیا هم نیمګړی دی،په بله خبره دا به داسې مثال ولري لکه چې د دولت د بنســټ څلورمه قوه وجودو نــه لري،دولت د هرې قوې په نه شــتون یا کمزورۍ کې د کمزورۍ پړاوونه وهي.

پایله: کــه چېــرې مطبوعات خپلــې آزادۍ تــه پــه پام سره خلــك ســولې او آرامــۍ تــه تشویق کړي شــك نه شته چې د بل هرڅا او قوې په نســبت به یــې موثریت او اغېزه زیاته وي، پــه دې دلیــل چــې خلك او ولــس مطبوعاتــو ته د یوې داسې شفافې هنداري په سترګه ګــوري پــه کومه کــې چې د خپلو هیلو او ستونزو د هوارې انځور یې بریښي، نو ښه به دا وي چې د وخت په دې حساسو شــیبو کې مطبوعــات د خپل قانون په چوکاټ کې د سولې د ارزښت او اهمیت په اړه داسې څه خپاره کړي چــې خلك په رښــتیني ډول دسولې او ارامۍ له پــاره کار وکړي، پــه ټولنه کې سوله او ارامي نه یوازې دا چې د یو چا پــه ګټه ده بلکې د ټولنــې د هر فرد پــه ګټه ده ،ان تر دې چــې مطبوعات هم د ســولې او ارامۍ په چاپېریال کې ښــه پرمختګ او انکشاف مونــدلی شي،خو که پــه ټولنه کې ګــډوډي او انارشي حاکمه وي، نوطبیعــي ده چې د نورو ډګرونو په څېر به د مطبوعاتو ډګر هم ســوړ او پیکه وي او یا به هم دخپلې آزادۍ چوکاټ ماتوي او د نورو یا زورواکانو له پاره بــه خپروني کوي چې په داسې حالت کې مطبوعات د هېــڅ وخــت له پــاره خپله بې طــرفي او خپلــواکي نه شي ســاتلی،دا چې آرامي په ټولنه کې د هراړخیــزې ودې ضامنه ده ، نو لازمه ده چې مطبوعات هم پــه دې اړه خپل مثبت رول اداکړي.

**مأخذونه:**

**۱.احمد، ګل، عامه اړیکی په ټولنه کی، ۱۳۹٦ کال،**

**۲.فرید، سعیدی،د مطبوعاتو په امنیت کــې مقالې ۱۳۹۰ عدالت مجله**

**۳. www.almaany.com/fa/dict/ar-fa**

**٤. http://alifathilawyer.persianblog.ir//۸۷/post**

# کارګران د هیواد د پرمختګ او اقتصادي پرمختیا ستنې دي

**((نوري))**

د ۲۰۲۳ زېږدیز کال دمې لومړۍ،چې،د لمریز کال د غویي له ۱۱ مې سره سمون لري د کارګرانو نړیواله ورځ ده.دغه مهمه ورځ د نړۍ په بېلابېلو هیوادونو کې لمانځل کېږي. کارګران دي،چې د نړۍ په پرمختګ او ترقۍ کې لویه ونډه لري.که کارګران نه وای،نړۍ به دومره پرمختګ نه وای کړی.د کارګرانو نړیواله ورځ نومول په دې دلیل منځ ته راغلې،چې په ۱۸۸۶ زېږدیز کال په داسې شرایطوکې کارګرانو د امریکا د شیکاګو په ښار کې د کار د سختو او غیر عادلانه شرایطو له کبله په لاریون لاس پورې کړ،چې یو شمېر کارګران د خپلو مشروع غوښتنو له امله د پولیسو له خوا ووژل شول.سربېره پر دې وژنو، کارګرانو بیاهم خپل لاریون ته دوام ورکړ.په همدې مناسبت دغه ورځ د نړۍ په ډېرو هیوادونو کې د کارګرانو په نړیواله ورځ ونومول شوه.دیکتاتور هیتلر د آلمان مشر هم دغه نړیواله ورځ په ۱۹۳۳ زېږدیز کال په رسمیت وپېژندله.د محمد ظاهر دپاچاهۍ په دوره کې د ګارګر نړیواله ورځ په افغانستان کې په رسمیت وپېژندل شوه او له هغې راهیسې،چې په افغانستان کې کوم نظامونه منځته راغلي د کارګرانو نړیواله ورځ یې په بېلا بېلو ورځو کې لمانځلې ده.د افغانستان اسلامي امارت هم د کارګرانو نړیوالې ورځې ته درناوی لري او هغه د پخوا په څېر لمانځل کېږي. کارګرانو ته د خدمتونو د وړاندې کولو او د هغوی د غوښتنو د غږ د پورته کولو لپاره د افغانستان د کارګرانو ملي اتحادیه(امکا) د محمد ظاهر د واکمنۍ پرمهال کله،چې اساسي قانون جوړ او تصویب شو جوړه شوه.هغه مهال یاده اتحادیه وړه او فعالیت یې هم کمزوری و،خو د کلونو په تېرېدو دغه اتحادیه له تشکیلاتي پلوه لویه او دغړو شمېرې د ریوټ له مخې اوس۱۷۲زرو تنو ته رسېږي.دغې اتحادیې د پخواني نظام تر نسکورېدو د هیواد په ۲۸ ولایتونو کې دفترونه لرل. امکا د کار د نړیوال سازمان د کمیسیون غړیتوب هم ترلاسه کړی دی.د افغانستان له غمیزې څخه کابو ۴۵ کاله تېرېږي په دغو کلونو کې د افغانستان کارګرانو ډېر زحمتونه،ربړونه او ناخوالې زغملې دي،خو خپل کار او فعالیت ته یې دوام ورکړی .کله،چې د ډاکټر نجیب الله جمهوري نظام نسکور شو،واک مجاهدینو ته ولېږدول شو،خو د جهادي تنظیمونو د اختلافونو له امله په کابل کې جګړې پیل شوې، سربېره پر نورو تآسیساتو ټولې فابریکې ړنګې بنګې شوې او کارګران بېکاره او ډېرې مهاجر شول او یا یې د خپل مسلک خلاف کارونه پیل کړل.د مجاهدینو اسلامي حکومت ۵ کاله دوام وکړ..د مجاهدینو د اسلامي حکومت له نسکورېدو وروسته د افغانستان اسلامي امارت په داسې حال کې واک ترلاسه کړ.، چې د کابل ښار او فابریکې ړنګې بنګې شوې وې،خو د سولې او ثبات په راتلو سره دوی د ټول افغانستان او په تېره بیا د پلازمېنې



کابل د بیا رغاونې چارې پیل کړې،خو کابل ښار دومره وران او ویجاړ شوی و،چې لسهاوو میلیارډو ډالرو پانګې ته اړتیا وه،چې د هغه وخت اسلامي امارت یې د بیارغاونې چارې پرمخ بېولې وای،خو بیا هم د بیا رغاونې څه کار وشو.په همداسې شرایطو کې پر طالبانو د امریکا په مشرۍ هوایي بریدونه پیل او د هرې ورځې په تېرېدو سره ډېر شول.اسلامي امارت د دې لپاره چې نور ځایونه هم وران او خلک ونه وژل شي واک یې خوشې کړ.د بیارغاونې چارې په ټپه ودرېدلې اوهغه کارګران ،چې په کار بوخت شوي و و وزګاره او بې برخلیکه شول. په همداسې شرایطو کې د بن د پرېکړې پر اساس نوی حکومت د حامد کرزي په مشرۍ منځته راغی،خو له همغې لومړۍ ورځې ،چې کرزی د لویې جرګې او وروسته د انتخاباتو له لارې جمهور رئیس وټاکل شو، د امریکا او کرزي ترمنځ اختلافونه ډېر وو،ځکه امریکا د کرزي فعالیتونه په مختلفو ډولونو شنډول او په خپلسروو فعالیتونو یې لاس پورې کاوه،چې دغه کار افغانانو ته ډېر تاوان پېښ کړ.څرنګه،چې ټول افغانستان په تېرو تپل شویو جګړو کې وران او ویجاړشوی و، کرزي له امریکا او نورو اروپایي هیوادونو غوښتنه وکړه ،چې د افغانستان فابریکې د تېرو تپل شویو جګړو له امله ورانې ویجاړې شوې،نو بیارغاونې ته اړتیا لري؛خو په ډېرې خواشینۍ سره،چې امریکا او اروپایي ټولنې یوازې خپلې موخې پرمخ بېولې او د افغانستان د فابریکو له بیارغاونې سره یې لېوالتیا ونه ښودله او خپل معذرت یې وړاندې کړ.کرزي د خپلې ۱۳ کلنې واکمنۍ په موده کې د دې وس پیدا نه کړ،چې پرته د امریکا او اروپایي ټولنې له مرستو ړنګې شوې فابریکې ورغوي.خصوصي سکتور د ځانونو لپاره نوې وړې فابریکې جوړې کړې،چې اوس هم فعالیت لري، خو دولتي لویې فابریکې له پامه وغورځول شوې. په دغو کلونو کې ډېرې مرستې افغانستان ته راغلې،خو د بهرنیو انجو ګانو ...

**۵مخ**

# د اولاد روزلو آداب

وحیدالله عمر المدني

تربیه ډېر اقسام لري، لکه: ایماني تربیه، اخلاقي تربیه، بدني تربیه، عقلي تربیه، نفسي تربیه، اجتماعي تربیه او جنسي تربیه، اولاد ته باید د دغو ټولو اړخونو په تربیې ورکولو کې ځیني آداب مراعات شي.

د اولاد تربیې کولو ځیني آداب په لاندې ډول دي:

۱. د نارینه لپاره چې واده یې نه وي کړی د نیکې ښځې د نکاح کولو کوښښ کول او د ښځې لپاره چې واده یې نه وي کړی له نیک او صالح سړي سره د نکاح کولو کوښښ کول، ځکه دغه دوه شیان د اولاد په تربیه کې ډېر زیات رول لري. که چا واده کړي وي او ژوند یې په تکلیف وي نو باید الله پاک ته دعا وکړي چې اې الله! زموږ ژوند را اصلاح کړې، له همدغه ځای څخه د اولاد اصلاح شروع کېږي.

۲. الله پاک ته همېشه دعاء کول، چې اې الله! موږ ته صالحه اولاده او صالحه کورنۍ راکړه.

۳. کله چې اولاد پیدا شو، نو د هغه په غوږو کې اذان او اقامت کول او سنتول یې.

٤. د کوچني سر ورخریل، تحنیک یې کول او د هغه لپاره عقیقه کول، که هلک وي دوه پسونه او که نجلۍ وي یو پسه حلالول.

٥. پر زړېدلي ماشوم باندې ښه نوم ایښوول، ځکه نوم پر مسمی (نومول سوي) ډېر تأثیر کوي.

٦. پر ماشومانو د فاسقانو، فاجرانو او بې معنا نومونه نه ایښوول.

۷. کوم چا ته چې الله پاک ډېر اولادونه ورکړي باید له ټولو سره یو ډول محبت وکړي.

۸. هر کله چې اولاد اووه کلنۍ ته ورسېږي باید په لمانځه امر شي.

۹. کله چې بیدېږي باید د خوب لپاره یې ځایونه جلا شي حتي نارینه او ښځینه باید په جلا - جلا کوټو کې ویده شي.

۱۰. هر کله چې لس کلنۍ ته ورسېږي نو د لمانځه پر نه کولو باید شرعي زجر ورکړل شي.

۱۱. ټولو اولادونو ته باید د اسلامي حجاب او لباس اغوستلو امر وشي.

۱۲. د داسې کالیو له اغوستلو څخه باید منع شي چې له هغو څخه یې بدن معلومېږي او یا هم له کفارو سره مشابهت ولري.

۱۳. نارینه او ښځینه اولادو ته باید په ماشومتوب کې د پتلون او داسې نورو جامو د اغوستلو څخه ډډه وشي، دارنګه له اووه کلنۍ وروسته باید له پتلون اغوستلو څخه نارینه او ښځینه اولاد منع کړي.

۱٤. ټولو اولادو ته باید یوې خونې یا کوټې ته د داخلېدو پر وخت د اجازې اخیستلو تعلیم ورکړل شي، په خاص ډول د خوب و خونې ته د داخلېدو په وخت کې.

۱٥. که چېرې کوم ماشوم له مور او پلار سره په یوه خونه کې بیدېږي، نو د کوروالي یا جماع په وخت کې باید داسې پرده وشي چې دوی و نه لیدل شي.

۱٦. ټولو اولادونو ته باید د عورت پټولو حکم وشي او ټینګار ورته وشي چې هېڅکله خپل عورت لوڅ نه کړي.

۱۷. ټولو اولادو ته باید د اسلام ارکان ور وښوول شي.

۱۸. اولادونه که کوچنیان وي او که لویان وي باید د حرامو شیانو له اورېدو او کتلو څخه منع شي، لکه: سندرې، ډرامې، فلمونه، نامحرمه ښځې، بد اخلاقه لیکني، نقلونه، ناولونه یا کتابونه.

۱۹. هر کله چې اولادونه بالغان شي، نو د ودونو اهتمام یې باید ډېر ژر وشي تر څو له حرامو کارونو څخه خوندي شي.

۲۰. ټولو اولادونو ته باید اسلامي لارښوونې وشي؛ ځکه په اسلامي لارښوونو سره انسان اصلاح کېږي.

۲۱. ټولو اولادونو ته باید د صداقت، امانتدارۍ، پر دین باندې استقامت، له محتاجانو سره د کومک او له مېلمنو سره د اکرام او احترام درس ورکړل شي.

۲۲. خپلو اولادونو ته د ژوندانه ټول آداب ور زده کړي، لکه: د خوب، آداب، د مجلس آداب، د خوراک او څښاک آداب، د سلام آداب، د اجازې غوښتلو آداب، د خبرو کولو آداب او داسې نور چې په ژوندانه کې ډېر اهمیت لري.

۲۳. ټول اولادونه له ښکنځلو، بې ادبۍ او بد اخلاقۍ څخه منع کړئ.

۲٤. ټول اولادونه د موسیقۍ له اورېدو څخه منع کړئ، دارنګه کور ته د لهو و لعب شیان باید را نه اوړل شي، لکه: ټیپ، ټي وي، وي سي آر، رباب او داسې نور.

۲٥. د خپلو ټولو اولادونو ملګري وڅارئ، که خدای مکړه ملګري یې بد خلک ووه، نو باید د هغوی د ملګرتیا څخه راوګرځول سي او د ښو ملګرو د انتخاب توصیه ورته وشي.

۲٦. ټولو اولادونه ته د نبوي سیرت ور زده کول.

۲۷. هر پلار باید له خپل اولاد څخه عالم جوړ کړي، که داسې ممکنه نه وي باید هغه اسلامي تعلیمات ورکړي چې اولاد ضرورت ورته لري، لکه: د قرآنکریم زده کول، عقائد زده کول، حلال او حرام پېژندل او داسې نور.

۲۸. خپلو ښځینه اولادونو ته باید د حیض او نفاس او ټول هغه احکام چې د ښځو له دینداري سره تعلق لري، باید ور زده کړای شي.

۲۹. له خپلو اولادونو سره باید ښه چلند وشي. د حسد، بغض او عداوت څخه باید لري وساتل شي.

۳۰. اولاد باید د پلار هره ښه مشوره ومني چې هغه د شریعت موافقه وي، ځکه په هغې کې خیر وي او که ځیني وختونه پلار پر ناحقه وي باید د اولاد مشوره او نصیحت هم ومني او دا و نه وایي چې «زه خو پلار یم او ته مې اولاد یې، ته یې ما ته رانښيي».

۳۱. اولادونه باید کفري هیوادونو ته د تعلیم او کار لپاره و نه لیږل شي؛ ځکه شرعاً ممنوع دی او په اړه یې سخت وعیدونه هم راغلي دي.

۳۲. ټول اولادونه باید د جماعت په لمانځه عادت او مسجد ته تشویق کړای شي. دارنګه د مسجد آداب باید ور وښوول شي تر څو په مسجد کې بې ادبي و نه کړي.

۳۳. خپل اولادونه د شپې تر ناوخته د مجلس او باندار کولو او د شپې ناوخته کور ته د راتګ څخه منع کړئ.

۳٤. مور او پلار باید د خپلو اولادونو په مخ کې د جنګ او جنجال څخه ځانونه وساتي؛ ځکه پر هغوی تاثیر لوېږي.

۳٥. د ټولو اولادونو و مخ ته د نېکو خلکو صفت کول او د هغوی د ښو کړنو ستاینه کول.

۳٦. د اولادونو په خوراک، څښاک او پوښاک کې اسراف نه کول او نه هم بخل کول، بلکې میانه طریقه خپلول.

۳۷. نارینه او ښځینه له داسې ځایونو څخه منع کول چې هلته بې حجابي او بې ستري وي، که هغه واده وي، که مېلمستیا وي او، یا هم بل مجلس وي.

۳۸. له خپلو کورونو څخه هر نامحرم کس باید منع شي، هغه که نږدې قریب وي او که لېرې قریب وي او کوم رواجونه چې زموږ په ټولنه کې په دې اړه شتون لري، لکه: د اکا زوی، ماما زوی، د عمه زوی او له داسې نورو څخه ستر نه کول، دا ټول باید منع شي او ستر چې فرض دئ باید ترسره شي.

۳۹. که چېرې اولاد د واده کولو مرحلې ته ورسېږي، نو لکه څنګه چې د نارینه لپاره د مېرمنې د پیدا کولو کوښښ کېږي، دا ډول باید د ښځینه اولاد لپاره هم د ښه خاوند د پیدا کولو کوښښ وشي. که چېرې یو سړي پیدا شي چې ښه پر شریعت برابر وي، نو د نجلې پلار باید په ښه طریقه خپله غوښتنه له هغه سره شریکه کړي او د خپلې لور د نکاح په اړه خبرې ورسره وکړي.

٤۰. کله چې یو کس خپله خور یا بله قریبه واده کړي باید د هغې د میراث برخه هم ورکړي او هغې ته خپل حق ورکړي چې څه وخت مناسب وي.

٤۱. کله چې پلار خپله لور واده کړي نو باید د خپل زوم په کور کې له هغې سره داسې محبت وکړي لکه څنګه چې یې په خپل کور کې ورسره کاوه او هېڅکله تعلقات ورسره پرې نه کړي او همېشه باید د هغې پر حالاتو ځان خبر کړي.



# راځئ وېبتري ټکنالوژي دروپېژنم!

ادریس سنګر

د انټرنټ نوی عصر راروان دی، بلکې د هغه عصر لپاره بنیاد جوړولو باندې کار تقریباً مکمل شوی دی. د انټرنټ دغه عصر ته وېب ترې Web۳ ویل کېږي. د وېب ترې Web۳ له نورو بې شمېره صفتونو سره سره یو صفت هم د مجازي حقیقت یا Virtual Reality دی. فعلا مونږ د موبایل یا د کمپیوټر پر سکرین باندې له دنیا سره رابطه نیسو، هغه که خریداري وي، پیغام رسول وي، درس ویل وي، ګیم او لوبې او داسې نور، یعنې هر څه د موبایل یا کمپیوټر په سکرین باندې جریان لري، خو د وېبترې په چوکاټ کې به دا هر څه په مجازي دنیا کې کېږي. یعنې یو خاص ډول عینکې به په سترګو یا خولۍ به پر سر کېږي او هلته به مکمله جدا دنیا وي. لکه په ګېمونو کې چې ښارونه او بلډنګونه، سړکونه،او پارکونه جوړ شوي دي. په هغې دنیا کې به هر هغه څه کېږي کوم چې موږ یې په حقیقي دنیا کې کوؤ! مثلا هلته کور اخیستلی شئ، دکان نیولی شئ، کاروبار کولئ شئ، پوهنتون، مکتب، یعنې مطلب هر څه کولی شو، بیا هلته خپل کور ته ملګري دعوت کولی شئ. دا مجازي دنیاوې به د همدې فېسبوک، ګوګل، امازون، مایکروسافت او نورو لخوا جوړېږي! هر څوک به خپل شکل خوښوي او یا د هغه د خپل عکس مطابق به شکل ورکول کېږي، او بیا به د هغه شکل په اساس هلته پېژندل کېږي! د دې لپاره د Ready Player One په نامه فلم وګورئ. یعنې مطلب دا چې پوهنتون، مکتب، خریداري،له ملګرو او خپلوانو سره تګ راتګ، او مکمل ټول اجتماعي او ټولنیز کارونه به په همدې مجازي دنیا کې ترسره کېږي! د فېسبوک کمپنۍ د میټا په نامه براند کېدل هم د همدې مقصد لپاره اول قدم ؤ!

...۵مخ



# گشایش نمایشگاه پیشه‌وران و صنعتکاران در ولایت بلخ

بدون تردید گشایش نمایشگاه های پیشه وران و صنعتکاران درکشور می‌تواند تا اندازه زیادی زمینه کاریابی را برای افراد بیکار و فقیر مساعد سازد و از جانب دیگر افزایش تولیدات صنایع داخلی کشور تاثیرات مثبت بر اقتصاد و زندگی مردم دارد.

امام الدین سنایی زاده رئیس اتاق صنایع و معادن ولایت بلخ در مراسم افتتاح «نمایشگاه صنعتی و تولیدی بلخ» که در صحن روضه مبارک شهر مزارشریف راه اندازی شده بود چنین گفت :(( برای تقویت اقتصاد کشور نیاز است که دولت و مردم از تولیدات داخلی حمایت کنند.))واقعآ که رشد صنایع دستی و تولیدات داخلی در یک کشور سبب زدو دن فقرو بیکاری شده وهمچنان سطح اقتصاد آنکشور افزایش می یابد.

وی تاکید نمود:حمایت از تولیدات داخلی، زمینه اشتغال زایی را برای مردم فراهم می سازد و همچنان افزایش تولیدات داخلی سبب پیشرفت اقتصاد کشورمی شود.

مردم و مسئولین امور اگر می خواهند که به رشد اقتصادکشورتوجه نمایند و روند فقر زدایی را تسریع بخشند، در نخست باید صنعتکاران را حمایت و زراعت را در کشور معیاری سازند.

آقای سنایی زاده اضافه نمود:« جنگ ها و نا امنی در بیست سال گذشته در افغانستان صنعت و زیر بنا های تولیدی و اقتصادی را تخریب و یا آسیب زده است؛ از همین رو صنعت و تولیدات داخلی نیازمند سرمایه گذاری سکتور خصوصی و حکومت می باشد.»

رئیس اتاق صنایع و معادن ولایت بلخ تصریح کرد: که زمینه سرمایه گذاری در افغانستان مهیا شده، اما برای حمایت از آن نیاز است که سکتور امنیتی کشوراز تولیدات داخلی استفاده کنند.

موصوف افزود:رویکرد استفاده از تولیدات داخلی در رهبری امارت اسلامی وجود دارد و ما از تجار ملی کشور می خواهیم که به جای واردات اجناس قابل تولید در داخل، مواد اولیه را وارد کشور نمایند.

در همین حال محمد سرفراز، یکتن از غرفه داران این نمایشگاه گفت: برگزاری چنین نمایشگاه ها برای بازاریابی و تبلیغات صنایع و تولیدات داخلی مفید و ارزنده می باشد. اما متاسفانه مردم توان خرید را ندارند و علت آن هم بیکاری می باشد. خواست ما از مسئولین امارت اسلامی افغانستان اینست که ما را حمایت کنند و از تولیدات داخلی کشور استفاده نمایند و زمینه بازاریابی جهانی را برای تولیدات داخلی کشور فراهم سازند.

خلیفه دوست محمد، یکتن از صنعتکاران دیگری که صنایع اش را به نمایش گذاشته میگوید:

تقاضا ی ما از امارت اسلامی این است ضمن حمایت از صنعت کاران وتولیدات داخلی ، ما ماشین پشم بافی را برای نخستین بار در ولایت بلخ ساختیم و لازم است که مسئولین حکومتی این ماشین ها را در دسترس خانواده های فقیر قرار بدهند.

حشمت الله ظاهر، جوانی که نرم افزار «رایانه خرید آنلاین» را برای نخستین بار در افغانستان ایجاد کرده چنین گفت: ما توانستیم یک شرکت مشورتی را بصورت آنلاین در کشور راه اندازی کنیم و فکر می کنم برگزاری چنین نمایشگاه ها می تواند در عرصه بازاریابی برای تولیدات داخلی مفید باشد.

وی افزود: برای مردم کشور خود توصیه می کنم تا از تولیدات داخلی استفاده کنند چون تولیدات داخلی از نظر کیفیت با اجناس خارجی هم تراز است؛ همچنین حکومت باید تسهیلات لازم مبنی بر ارائه قرضه های کوچک، کاهش بهای برق و مالیات را برای صنعتکاران و تولیدات داخلی در نظر بیگیرد.

به عقیده کارشناسان امور اقتصادی، دولت مکلف است که از سکتور خصوصی و تولیدات داخلی حمایت کند و رقابت های منفی از میان برداشته شود. با تلاش های مشترک و همه جانبه باید وطن خود را از یک کشور وارد کننده به صادر کننده مبدل سازیم.دولت و سکتور خصوصی رقیب یکد یگر نیستند،بلکه درهماهنگی کامل باید برای نیل به اهداف مشترک کار کنند .بدون تردید قرار گرفتن کشور ما به صنعتی شدن در شرایط کنونی اگر ناممکن نباشد بسیار مشکل هم نخواهد بود. زیرا با پیروزی امارت اسلامی افغانستان امنیت و ثبات در کشور تامین شده و هیچگونه تشویش ونگرانی برای سرمایه گذاری وجود ندارد.

.مسئولین امارت اسلامی افغانستان از سکتور خصوصی ،پیشه وران وصنعتکاران می خواهد که با ارائه طرح های سازنده زمینه را برای تولیدات و صادرات بیشتر فراهم سازند.مسئولین وزارت تجارت و صنعت باید از صنعتکاران داخلی حمایت و پشتیبانی نماید و برای شان تسهیلات زیادی فراهم سازد تا در رقابت با تولیدات خارجی با شکست مواجه نگردند.تجربه نشان داده است که فعالیت‌های صنعتکاران و گسترش پیشه وران داخلی در کشورما، می‌تواند تا اندازه زیادی زمینه کار را برای افراد بیکار و فقیر نیز مساعد سازد و از جانب دیگر، رشد و افزایش صنایع داخلی تاثیرات مثبت دربخش اقتصادکشوردارد.

گفتنی است که نمایشگاه «صنعتی و تولیدی بلخ» که در صحن روضه مبارک شهر مزارشریف، گشایش یافت برای مدت پنج روز به روی علاقمندان باز می باشد. **ظهیر**

# بررسی تعلیق تنفیذ در قانون اجراءات جزایی

محب الله « حقیار»

مدارک تاریخی نشان میدهد که جامعه انسانی از آغاز زنده گی جمعی با پدیده مجرمانه در گیر بوده ودر جهت حفظ منافع فردی وگروهی در برابر تهدید کننده گان عکس العمل های متنوعی را ابراز داشته است.قانون اجرآت جزایی یک ضمیمه جداگانه به ارتباط بدیل های حبس وحجز دارد .همچنین تدابیر سلب کننده وتحدید کننده آزادی ،تدابیر سلب کننده حقوقی وتدابیر مالی واقتصادی نیز در کود جزا پیش بینی شده است. رهایی مشروط یکی دیگر از روش هایی است که هر چند در قوانین قبلی افغانستان نیز وجود داشت اما در سال های اخیر رهایی مشروط به معیار های جدید در قوانین کشور انعکاس یافته است تعلیق تنفیذ محاکمه ومجازات نیز در قوانین پیشین افغانستان وجود داشته. اما قانون اجراآت جزایی با تفصیل بیشتر به موضوع تعلیق تنفیذ و مجازات آن پرداخته است.

مبحث اول : مفهوم تعلیق : از این که تعلیق یکی ازمؤسس حقوق جزا دانسته میشود. ایجاب می نماید تا قبل از آن که به توضیح ماده مربوط قانون پرداخته شود باید این موسس حقوقی توضیح شود.

تعلیق در لغت به معنای : آویزان کردن. یا انجام نشدن کاری. یا بلاتکلیف ماندن امری بدون مشخص بودن زمان قطعی انجام یافتن آن می باشد.

اما در اصطلاح حقوقی تعلیق به معنی معلق کردن اجرای مجازات یا حکم است. تعلیق مجازات زمانی صورت می گیرد که محکمه شخص را مجرم شناخته وحکم خویش را در موردی وی صادر نموده باشد، اما به دلایلی که قانون آن ها را ذکر نموده اجرأی مجازات توسط قاضی برای مدت معینی معلق می گیرد اگر محکوم علیه در جریان مدت تعلیق دست به جرم دیگری نزند مجازات بالای او تعلیق نمی گردد واگر مرتکب جرم دیگری گردد مجازات هر دو جرم بالای وی تطبیق می شود. اتخاذ تصمیم تعویق مجازات می تواند بر دلایل مختلفی استوار باشد اول این که مقنن درک نموده است که یک تعداد محکومین اصلاح پذیر بوده ونگه داشتن آن ها در زندان ممکن سبب خطر ناک شدن آن ها شده واز طرفی این حس را به آن ها القاء کند که جامعه در حال انتقام از آن ها است.

تعلیق مجازات در واقع از یک طرف به مجرم می آموزاند که از نگاه قانونی وی مرتکب بررهم زدن نظم اجتماعی شده است اما از طرف دیگر اگر وی علایم اصلاح پذیری را دارا باشد جامعه حاضر است در برابر او نرمش نشان دهد ومجازات را بالای او به مرحله اجراء نگذارد همچنین تعلیق مجازات باعث می شود تا مصارف دولت کمتر شود زیرا نگهداری مجرمین در محبس این تنها خود او نیست که آزادی وی سلب ومدرک عایداتی وی قطع می گردد بلکه خانواده او



نیز در اکثر مواقع یک حامی را از دست می دهد ودر بسا موارد حبس شخص منجر به پاشیده گی نظام خانوادگی می گردد.

هر چند تعلیق مجازات در کشور های متعدد مورد قبول قرار گرفته لیکن نحوه اجراء شرایط وجرایمی که تعلیق مجازات در مورد آنها قابل تطبیق است متفاوت می باشد در یک تعداد کشورها تعلیق ساده مجازات مورد قبول قرار گرفته است یعنی این که تعلیق با کدام شرط دیگر همراه نیست اما در بعضی کشور های دیگر شرایط خاص مانند گزارش به پولیس دوری جستن از اماکن خاص یا کمک به مجنی علیه از جمله شرایطی است که در جریان مدت تعلیق باید عملی گردد همچنین در اکثر کشورها تطبیق تعلیق مجازات بر یک تعداد جرایم مانند جرایم تروریستی جرایم علیه امنیت داخلی وخارجی یا جرایم جنایت ممنوع می باشد.تعلیق تنفیذ حکم چنان موسس حقوقی است که به اثر آن اجرای مجازات محکوم بهای شخص معطل قرار داده میشود تعلیق تنفیذ حکم یکی از شیوه ها وطرق عملی موثر در ساحه قواعد جزایی کشورهای مختلف می باشد. منظور وهدف اصلی وضع این قاعده اصلاح وتربیت مجدد محکوم علیه است طوری که بدون آن که جزاء بر شخص تطبیق گردد وروانه زندان ودر آن جا با سایر محکومین مدت محکومیت خود را سپری نماید این مدت محکوم بها به حکم محکمه تعلیق می گردد. در این صورت با وجود آن که محکوم علیه در خارج زندان به سر می برد اما در حال سپری نمودن مدت محکومیت خود می باشد هر گاه محکوم علیه در این مدت مرتکب جرم دیگری شود مجازات اولی ودومی هر دو بالای وی یک جای تطبیق می گردد.

آیا تعلیق حق است یا امتیاز ؟ قاعده تعلیق تعقیب یا تنفیذ مجازات یک امتیاز است نه حق طوری که محکمه می تواند در رابطه به اشخاص که واجد شرایط قانونی باشد این قاعده را تطبیق نماید اما شخص حق ندارد تا منحیث حق ادعا نماید که محکمه باید وی را از این امر مستفید سازد.

انواع تعلیق :تعلیق دونوع است یکی تعلیق تعقیب ودیگری تعلیق مجازات یا اجرای حکم. در تعلیق تعقیب محکمه رسیده گی قضیه را مورد تعلیق قرار می دهد. در تعلیق مجازات محکمه شخص را محکوم به مجازات می سازد اماتطبیق مجازات یا تنفیذ آن را تعلیق می نماید.در قانون اجرآت جزایی هر دونوع تعلیق مورد قبول واقع شده است با این تفاوت که تعلیق تعقیب صرف در جرم قباحت تسجیل وپیش بینی گردیده وتعلیق مجازات در جرم جنحه. از جانبی هم تعلیق ساده وتعلیق مراقبتی یا تعلیق تحت شرایط تقسیم می شود در تعلیق ساده شرایط گذاشته نمی شود اما درتعلیق مراقبتی محکمه شرایطی را ذکر می نماید که محکوم علیه مکلف به سپری نمودن آن می باشد.

مرجع ذیصلاح تعلیق و رفع آن:

مرجع ذیصلاح اصدار حکم تعلیق وهم چنان لغو تعلیق، محکمه می باشد. شرایط وحالات آن در قانون ذکرمی گردد برای تعلیق حکم محکمه شرایطی را در نظر گرفته ودر صورتی که محکوم علیه این شرایط را رعایت نکند. محکمه میتواند محکومیت تعلیقی رارفع ومجازات تعلیقی را تنفیذ نماید به گونه مثال: هر گاه شخص طی مدت تعلیق تنفیذ حکم مرتکب جرم دیگری شود در آن صورت محکمه حکم تعلیق تنفیذ را لغو وهر دوجزای جرم اولی ودومی را بالای محکوم علیه تطبیق می نماید به این مناسبت برای تعلیق تنفیذ حکم در قانون مهلتی تعین گردیده است که اگر محکوم طی این مدت از شرایط معینه قانونی تخلف ورزد ویا مرتکب جرم دیگری شود تعلیق تنفیذ لغو می گردد.

تعلیق محاکمه : ماده دوصد وچهارم قانون اجرآت جزایی چنین مشعر است:

(۱) محاکمه متهم در قضایای قباحت برای مدت یک سال به صورت مشروط تعلیق شده می تواند در صورتی که متهم در دوره تعلیق مرتکب جرم نگردد دعوای جزایی ساقط می گردد.

(۲) هر گاه متهم در خلال مدت تعلیق محاکمه مرتکب جرم گردد به علت هر دو جرم مورد محاکمه قرار می گیرد.

تعلیق تنفیذ حکم :ماده دوصد پنجم قانون اجرآت جزایی چنین تصریح می دارد:

(۱) محکمه در صورت موجودیت یکی از شرایط آتی به تعلیق تنفیذ حکم در قضایای جنحه حکم می کند.

۱- ناشی از سهل انگاری وغفلت یا اهمال در اجرای وظیفه یا خطا در فهم قانون باشد.

۲- متهم در جرم ترافیکی مصدوم را کمک ویاری نموده وفرار نکرده باشد.

۳- مرتکب قبلا محکوم به جزاء نشده باشد.

٤- محکمه در یابد که متهم سابقه جرمی نداشته وخود به مراجع مربوط اطلاع یا خود را تسلیم نموده ورفتاری وی نماینگر اطاعت او از قانون در آینده باشد.

٥- مدعی حق العبد ابراء نموده یا متهم به رضایت خود خساره وارده را جبران نموده باشد.

(۲) مدت تعلیق سه سال می باشد واز تاریخ حکم محاسبه می گردد. (۳) هرگاه حکم بر تعلیق تنفیذ صادر گردد محکمه حسب احوال مرتکب را به انجام یک یا بیش تر از موارد ذیل در مدت تعلیق تنفیذ مکلف می سازد.

۱- بدون اجازه پولیس خارج ازشهرمحل سکونت یا سفر نکند.

۲- درهرهفته یا هرماه به دفتر پولیس حاضری دهد.

۳- از حمل اسلحه ناریه وجارحه خود داری نماید.

٤- از راننده گی طی مدتی که محکمه تعین می کند خود داری نماید.

٥- به مسولیت های فامیلی، اجتماعی واخلاقی پابند باشد.

٦- به اعمال که موجب اذیت متضرر می گردد مبادرت نورزد.

۷- سایر مواردی که محکمه رعایت آن را لازم می داند.

(٤) هر گاه محکوم علیه مندرج فقرره (۳) این ماده از شرایط معینه تخلف نماید یا در مدت تعلیق تنفیذ مرتکب جرم جنحه شود تعلیق تنقیذ حکم لغو ومجازات بالای وی تنفیذ می گردد.

**فلسفه تعلیق مجازات :**

در بعضی موارد جرمی که انجام می گیرد آنچنان زننده وخطر ناک نیست که از نظر تسکین افکار عمومی اجرأ ی مجازات مرتکب آن ضرورت قطعی داشته باشد به علاوه با توجه به حالات وروحیات مرتکب جرم معلوم می شود که تهدید به اجرای مجازات بیش از خود مجازات در رفتار آتی او مؤثر خواهد بود از طرف دیگر این امکان وجود دارد که چنانچه مرتکب به محیط جرم زایی زندان فرستاده شود نه تنها تنبهی حاصل نکند وبهبودی دررفتارش پدید نیاید بلکه در شرایط مساعد محیط زندان رفتار های مجرمانه دیگری را فراگیرد وبا درون افکنی ارزشها ی مجرمانه ارتکاب جرم را درآینده امری زشت ونابه هنجار تلقی نکند درچنین موقعیت شکی نیست که تعلیق مجازات مرتکب جرم با الزام به این که درمدتی معین رعایت کلیه مقرارت وپیش بینی های قانونی را بنماید بیشتر به صرف وصلاح شخص مجرم واجتماع خواهد بود.

**منابع :**

**۱ : وزارت عدلیه ،جریده رسمی ،(۱۳۸۲ ) قانون اساسی ، نمبر مسلسل (۸۱۸) کابل ،وزارت عدلیه .**

**۲ : وزارت عدلیه ،جریده رسمی .(۱۳۹۳).قانون اجرآت جزای .نمبر مسلسل (۱۱۳۲).کابل .وزارت عدلیه**

**۳: رسولی ،محمد اشرف ،(۱۳۹٤).شرح قانون اجرآت جزای ،نمبر مسلسل (۱۰۰۰).کابل انتشارات سعید .**

**۴ : ستانکزی ،محمد ظریف ، (۱۳۹۳) اصول اجرات جرای ،کابل ،انتشارات حامد رسالت**

# حکومت د اسلامي اصولو په چوکاټ کې د بیان آزادۍ ته پوره ژمن دی

احمد راشد

د مې دربیمه په نړی کې د مطبوعاتو د آزادۍ ورځ ده او هر کال په ټوله نړۍ کې نمانځل کېږي.



دغه ورځ په کابل کې د ملګرو ملتونو د استازو او د افغانستان د رسنیو ټولنې د غړو په حضور کې ونمانځل شوه، په دغې نمانځغونډه کې د وینا د خپلواکۍ د اصل پر مراعاتولو ټینګار شوی. یونسکو سازمان بیا په ټوله نړۍ کې د خبریالانو د خوندیتوب غوښتنه کړې ، د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوترېش ویلي، زموږ ټولې آزادۍ د وینا پر استقلالیت ولاړې دي. د نړۍ په هر ګوټ کې د وینا آزادي تر برید لاندې ده...

ګوترېش په خپلو خبرو کې د خبریالانو په وړاندې د شته ګواښونو په اړه اندېښنه ښودلې او زیاته کړې یې،چې په ۲۰۲۲ میلادي کال لږ تر لږه ۶۷ خبریالان وژل شوي،چې د نورو کلونو په پرتله ۵۰ سلنه زیاتوالی ښیي، ګوترېش په خپلو خبرو کې ویلي چې په افغانستان کې دغه ورځ پر داسې مهال نمانځل کېږي،چې په افغانستان کې رسنۍ د محدودیتونو تر څنګ له ناوړه اقتصادي حالت سره مخ دي. بله خوا د رسنیو د ملاتړ اداري یا «نی» ویلي چې اوس په افغانستان کې ۵۰ سلنه رسنۍ د سیاسي تحول او اقتصادي ستونزو له امله تړل شوي او ۶۵سلنه خبریالانو او د رسنیو کار کوونکو خپلې دندې پرېښې دي، په داسې حال کې چې اسلامي امارت د رسنیو بشپړ ملاتړ او د شریعت په چوکاټ کې د بیان آزادۍ خوندي ساتلو ته ژمن دی.

منو چې اسلامي امارت به رسنیو ته یو لړ قوانین وضع کړي وي، ځکه هر حکومت ځانته پالیسي او قوانین لري، خو اسلامي امارت پر دیني ارزښتونو او د افغانستان پر کلتور کلک ولاړ دی او هېڅکله به د اسلامي، ایماني او وجداني مسئولیت له مخې رسنیو ته د دې اجازه ور نه کړي،چې د شریعت او افغاني ارزښتونو خلاف داسې نشرات وکړي، چې خدای مکړه د ټولنې د بد اخلاقۍ سبب شي. په رښتیا هم په اسلامي ټولنه کې باید رسنۍ داسې خپرونې وکړي،چې د شریعت د اصولو او افغاني ارزښتونو خلاف نه وي، رسنۍ باید د پردیو د کلتور او هغو رواجونو له خپرولو ډډه وکړي، چې ټولنه د بد اخلاقۍ لور ته بیایي، دغه راز رسنۍ باید داسې تفریحي پروګرامونه او ډرامې خپرې نه کړي،چې د یو چا د تحقیر او یا یې هم انساني کرامت ته په کې سپکاوی شوی وي او همداسې نور....

د اسلام مقدس دین ۱۴۰۰ کاله وړاندې د بیان او نظر آزادۍ ته معترف و، حقیقت دا دی چې په اسلام کې بل هر اسماني او غیر آسماني دین زیات د بشر حق ته اهمیت ورکړ شوی او له ټولو بیا زیات د حریت او خپلواکۍ، حق ورکړل شوی،چې په دې کې د بیان آزادي هم راځي، مګر سره له دې هم نن سبا په دنیا کې د غرب دیموکراتیکې آزادۍ ته ځینې خلک د بیان آزادي وایي او زموږ اسلام په دې تورنوي چې په اسلام کې د بیان آزادي نشته، خو حقیقت داسې نه دی، په اسلام کې د شریعت او اسلامي مقرراتو تر چطر لاندې د بیان او فکر آزادي دواړه شتون لري.

څرنګه چې د بیان آزادي یو ثابت حق دی،نو محدودیت یې هم منل شوی اصل دی، آزادي په دې مانا نه چې یو څوک دې هر څه چې زړه یې غواړي بیان کړي، د حق او باطل باید توپیر وشي، او بیان داسې نه وي چې تاوتریخوالی، سپکاوی، شخصیت وژنه او داسې نور څه زیږوي، په اسلام کې مسلمانان د بیان د آزادۍ حق لري ، خو د یو لړ حدودو په رڼا کې چې انساني او اسلامي ارزښتونو باندې تېری ونه شي، اسلامي امارت هم پر خپلو رسنیو ځینې محدودیتونه د دې لپاره وضع کړي،چې په نه رعایت کولو سره یې په ټولنه کې کلتوري ګډوډي رامنځ ته کېږي او انساني ارزښتونه تر پښو لاندې کېږي، لکه: د مقدساتو توهین، د وګړو رسوا کول، د ټولنې بې ثباتي او د عقایدو تیت وپرک کول او داسې نور ټولنیز مسایل...

همدا رسنۍ دي،چې په ټولنه کې اصلاح راولي او ټولنه ښه لوري ته وربولي، حکومت خپلو مسئولیتونو او نیمګړتیاوو ته متوجه کوي، د غاصبانو د غصب مخه نیسي، د ښو او بدو تفکیک کوي او ټولنې ته درانه او په کار پوه خلک وروپېژني، دغه راز رسنۍ د واقعیتونو خپرول خپله ایماني او وجداني دنده ګڼي. رسنۍ دي، چې د هېواد ټول وګړي یې سره یو موټی کړي او دا یې مسلکي، انساني او اسلامي مسئولیت هم دی، چې د ټولنې د ترقۍ، خیرخواهۍ په اړه یې خپل مثبت رول ادا کړی دی.

ټولې رسنۍ مسئولیت لري، د ټولنې هغه وګړي له حقایقو خبر کړي، چې په ټولنیز ژوند کې یې هڅې کمرنګې دي او یا په څه باندې نه پوهېږي،که چېرې رسنۍ خپل اصالت او رسالت په سمه توګه ترسره کړي، ټولنه به مو له هر ډول ستونزو په امن وي، رسنۍ دي چې ټولنه له فساد، رشوت،اختلاس،بې عدالتۍ، زورواکۍ او ناپوهۍ ژغوري. رسنۍ دي چې له خلکو سره اقتصادي، ...**۵مخ**

...**۵مخ**

### کارګران د هېواد ...

له لارې ولګول شوې په هغو ځایونو کې،چې زرډالره لګول کېدل هغه يې شل زره ډالره ثبتول.افغانستان ته د بيارغاونې لپاره پيسې راوړل کېدې،خو بېرته ورل کېدې. کابل ښار خپله خلکو او خصوصي سکتور آباد کړ او دولتي ځايونه خپله دولت د خپلې پرمختيايي بوديجې له لارې څه ناڅه ورغول د افغانستان د ورانو شويو فابريکو کارګران د پخوا په څېر بېکاره او بې برخليکه پاتې شول.دا ډېره لويه ضايعه وه، يو مسلکي کارګر،چې يو عمر يې د ماشين تر شا کار او توليد کړی وي هغه دې بې برخليکه شي.د يوه هېواد د پرمختګ او اقتصادي پرمختيا ستنې همدغه صنعتي کارګران دي،چې صنعتي توکي توليدوي.تر نن ورځې پورې مو د خپلې اړتيا وړ توکر يا رخت له بهرنيو هېوادونو واردوو،ځکه زموږ د توکر د توليد فابريکې لاتر اوسه ورانې ويجاړې پاتې شوي دي.يو خواخوږی هېواد پيدا نه شو،چې د افغانانو لاسنيوی وکړي او د ورانو شويو فابريکو په برخه کې ورسره مرسته وکړي.د کابل د بګراميو نساجي فابريکې د بيارغاونې لپاره ،چې کومې هلې ځلې پيل شوې وې د امريکا له خوا په مرموزه توګه شنډې کړای شوې او چينايانو هم خپلې پښې و اېستلې.مخکې له تپل شويو جګړو په دغې فابريکه کې۴۵۰۰ کارګرانو په ۳ شفټيونو کې کار او فعاليت ترسره کاوه.د کرزي په دوران کې د کارګرانو ژوند په دې ډول تېر شو.د دوی غوښتنو ته چا مثبت ځواب ور نه کړ ،ځکه امريکا چې د افغانستان مرستندويه وه، خو د افغان کارګرانو له غوښتنو سره يې لېوالتيا نه لرله.د کرزي له حکومت سره هم د امنيتي او ستراتيژيک تړون په چوکاټ کې چلند کېده،چې په هغه تړون کې د افغانستان د ورانو شويو فابريکو رغول شامل نه وو.کله،چې د حامد کرزي د واکمنۍ دوره پای ته ورسېده اشرف غني په اصطلاح د ټاکنو له لارې واک ترلاسه کړ،هغه هم له امريکا او اروپايي ټولنې سره ستونزه لرله هغه شکل،چې ده غوښتل،چې د افغانستان فابريکې ورغول شي امريکا ورسره ونه منله .اوس چې اسلامي امارت واک ترلاسه کړی ، په هېواد کې کابو۵ زره فابريکې،چې له پخواني نظام څخه راپاتې دي فعاليت لري.د نظام په بدلېدو سره فابريکې له فعاليت څخه ځومياشتې ولوېدې،خو وروسته بېرته فعالې شوې او کارګرانو پر توليدي چارو پيل وکړ.دولتي او ملي فابريکې هماغسې ورانې او ويجاړې پاتې دي؛ځکه په ميلياردونو ډالره لګښت غواړي.د دغو فابريکو کارګران ځيني د سن د لوړېدو له امله مړه شوي او هغه ،چې پاتې دي له وس اوتوان څخه لويدلي دي.دا ډېره لويه تشه ده او هېڅوک پيدا نه شول ،چې د افغانستان دولتي اوملي فابريکې ورغوي او افغانانو ته خپله دوستي ثابته کړي.د تپل شويو جګړو له امله له افغانستان څخه ډېر خلک ايران او پاکستان ته تللي او هلته ډېر درانه او شاقه کارونه ترسره کوي،په خواشينۍ سره،چې ډېر دغه کارګران د خپل کار د مزد ترلاسه کولو لپاره د فابريکو او شرکتونو له خاوندانو سره له ستونزو سره مخ دي،چې دا ستونزه د ملګرو ملتونو او د کار او ټولنيزو چارو وزارت له خوا هم منل شوې او د ستونزې د حل کولو په لټه کې شوي دي.په پاکستان او عربي هېوادونو کې هم د افغان کارګرانو وضعيت د ايران په څېر دی.نو اسلامي امارت ته په کار دي،چې دغې ستونزې ته د خپلو سفارتونو د کار د برخې له لارې نه ورکړي او همداسې د ورانو شويو فابريکو د رغولو لپاره هم لاس په کار شي،چې افغانان په کار بوخت او هېواد او خلکو ته د خدمت جوګه شي.

### راځئ وېښ‌تري...

او د ويبتري Web۳ عصر لپاره په دومره چټکتيا سره د کمپنيو کار کول د کورونا ويروس په سبب ؤ!

په همدې اړه پيغمبر عليه السلام په يو حديث کې د قيامت د نښانو په بيان کې فرمايلي و چې يعنې د خلکو تر منځ به تناکر پيدا شي، يو بل به نه پېژني! ټول به يو بل ته اجنبيان وي! په مجازي نړۍ کې به له خپل همسايه سره له ټولو نږدې ملګري وي، خو په حقيقي دنيا کې به يې پېژني هم نه! ۲۳۳۰۶همداسې د مکتب همصنفيان، پوهنتون، حتی د مريض پوښتنه به هم په مجازي نړۍ کې ترسره کيږي! د مريض به کور هم موجود وي، خلک به يې مجازي کور ته ورځي، مريض به په کټ کې پروت وي، يا په شفاخانه کې، او شفاخانې به هم د مجازي نړۍ سرويس وړاندې کوي! هلته به د مريض پوښتنه کېږي! دا حديث ځينو د کرونا ويروس لپاره تطبيق کړئ ؤ، خو اصلاً زما په فکر مصداق يې هغه دنيا ده چې بنيادونه يې تيار جوړ شوي دي او تر کال ۲۰۳۰ پورې به عملي شي!

### حکومت د اسلامي اصولو...

سياسي او فرهنګي مسايل مطرح کوي او له بدمرغيو يې ژغوري. له بده مرغه ځينې رسنۍ د ژورناليزم د اصولو خلاف ژبني، سمتي، نژادي او... مسئلو ته لمن وهي،چې دغه ډول مسايل ټولنه له لوی بحران سره مخ کوي، زموږ ټولنه چې غوڅ اکثريت يې خپل ماغزه نه لري او په ټول ژوند کې يې پردي رواجونه پر ځان عملي کړي او له پردي فرهنګه يې ګټه پورته کړې ده، په دې اړه ځينې لاملونه شته چې يو شمېر رسنۍ د بهرنيو کړيو په مالي امکاناتو په زور رامنځته شوي،او هغوی چې کومه سوژه ورکړي دوی ورته نځېږي، بيا نو دوی ته ملي او افغاني ارزښتونه کومه مانا نه لري،بس خپله پروژه مخته وړي، ښه مثال يې هغه مغرضې رسنۍ دي، چې اوس مهال يې افغانستان له خولې نه وځي او تل يې په اړه ناسم تبليغات کوي، چې په افغانستان کې اقتصادي ناورين، د ماشومانو خوارځواکي، د ترهګرو ډلو فعاليت، د کوکنارو کرکيله او قاچاق يې د خبرونو مهم سرټکي دي! يو شمېر نور شايد پردېپال نه وي خو په تېر دور کې يې پانګه پيداکړې، نه د رسنۍ پر اهميت او ارزښت پوهېږي او نه خپل ايماني او وجداني مسئوليت پېژني او هغه څه يې چې خوښه وي هغه خپروي، په داسې حال کې چې دغه راز فعاليتونه د رسنيو د قانون خلاف کړنه ده، خو الحمدالله د اسلامي امارت په بيا واکمنېدو سره د امکان تر بريده د خپلسريو مخه نيول شوې ده . په پای کې هغو ژورناليستانو چې دې ولس ته يې په مينه او اخلاص خدمت او د دې ويده ولس ذهني تنوير لپاره يې کار کړی، له زړه نه يې قدر داني کوم او هڅې يې د ستاينې وړ دي، هغه ژورناليستان چې په دې سپېڅلې لاره کې يې د عقيدې او پاک فکر له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی د جنت الفردوس هيله کوم! بيا هم اسلامي امارت په ټول هېواد کې د بيان آزادۍ او د رسنيو او خبريالانو خونديتوب ته پوره ژمن دی او تل يې رسنيو او خبريالانو ته داډ ورکړی، چې د ستونزو په حل کې به په ګډه کار کوي او ټولو ستونزو ته به پر وخت رسېدنه کوي.

### د ريچارډ بنټ راپور...

کې هڅې کوي ،چې ستونزه رامنځته نه شي. زموږ غوښتنه دا ده ،چې د افغانستان عيني او روان واقعيتونه درک او راپور پرې چمتو شي.))شنونکي هم د ريچارډ بنټ ياده ادعا بې بنسټه بولي او زياتوي چې دا ډول راپورونه تر ډېره د سياسي اهدافو تر لاسه کولو لپاره کارول کېږي.د سياسي چارو شنونکی هدايت الله پکتين وايي: دغه ډول راپورونه اکثره تبليغاتي وي او تر ډېره له حقيقت څخه لرې وي.نوموړی وايي: (( دغه راپور د تبليغاتي جګړې د افزارو په توګه کارول شوی. دا حقيقت نه لري، چې دوی دې ته مجبور شي ،چې په کم عمر کې ودونه وکړي او يا ځان وژنه وکړي او د ودونو په اړه د افغاني ټولنې د ودونو دود معلوم دی.))د حقوقي او سياسي چارو بل شنونکي سيد اکبر سيال وايي: دا ادعاوې بې‌بنسټه او له حقيقت څخه لرې دي. (( زما په نظر، دغه ادعاوې ثابتې نه دي او فکر نه کوم، چې په افغانستان کې داسې ستونزې وي ،چې ښځې ځان وژنه وکړي او خلک په کم عمر خپلې لونې واده کړي.))د يادونې وړ ده چې له دې وړاندې هم اسلامي امارت د بشري ناورين په اړه د ملګرو ملتونو راپورونه بې بنسټه بللي دي.

### نړيوال دې له افغان ...

په نه تکرارولو مکلف يو. زرداري يو ځل بيا ادعا وکړه، چې په افغانستان کې د ناامنيو د رامنځته کېدو له پايلو له هر چا ډېر پاکستان زيات زيانمنېږي. نوموړي د دې په څرګندولو سره چې نړيواله ټولنه بايد د امنيتي اندېښنو د له منځه وړلو لپاره کار وکړي، زياته کړه: يو سوله ييز او باثباته افغانستان نه يوازې د سيمه ييز انسجام او اقتصادي همکارۍ، بلکې د نړيوالې سولې او ثبات لپاره هم مهم دی.

### ترکمنستان به یک مرکزی...

ولسواليهای ګلران، کشک کهنه و کشک رباط سنګی، خدمات ارايه ميکند.((در همين حال محمد نبی؛ مسئول صحی شورای تورغندی هرات، ميګويد، که زايشګاه مرکز صحی شهرک تورغندی با مشکلات زيادی از جمله، کمبود تجهيزات طبی و دوا روبرو بود. به ګفته او با رسيدن محموله کمکهای طبی کشور ترکمنستان، برخی از مشکلات اين مرکز حل خواهد شد.محمد نبی افزود: )) ما تعمير برای بخش زايشګاه واطفال نداشتيم اعمار اين تعمير از مرګ و مير اطفال نوزاد و کودکان جلوګيری ميکند، همچنان در اين کلينيک مريضان چهار ولسوالی غرض معالجه مراجعه می کنند .((

از سويی هم رئيس صحت عامه هرات، خواستار ادامه کمکهای بيشترکشور ترکمنستان در بخش ارائيه خدمات موثر و با کيفيت برای مردم در اين ولايت شد.محمد طالب شاهد يک تن ازباشند ګان شهرک تورغندی، در صحبت با رسانه ها ګفت : (( امروز ما و شما شاهد کمکها و همچنان ترميم تعمير مرکز صحی تورغندی در هماهنګی با رياست صحت عامه جهت رفع مشکلات مرکز صحی به منظور عرضه خدمات صحی بهتر و با کيفيت ميباشيم که جای بسا خرسندی است.)) مرکز صحی تورغندی ولسوالی کشک رباطسنګی، در حالی از سوی کشور ترکمنستان تجهيز ميشود که بسياری از مرکزهای صحی در ولسواليهای دور دست ولايت هرات، با کمبود داکتر و دوا مواجه اند.

### افغان او پاکستاني ...

برخه کې شته ستونزې له منځه يوسی.د يادونې وړده چې نور الدين عزيز، اميرخان متقی او ورسره پلاوی ورمه ورځ اسلام اباد ته رسېدلی، چې هلته به د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادی اړيکو د پراختيا په برخه کې بېلابېلې ليدنې ولري.

### روغتيايي مرکزونه مو ...

له رئيس څخه غوښتنه کوو ،چې په ټولو ولسواليو کې دغه ډول روغتيايی مرکزونه کړی.))د دې ترڅنګ په ارزګان کې د يو شمېر نورو سيمو خلک هم ادعا کوی ،چې شته روغتيايی مرکزونه د خلکو اړتياوی نه شی پوره کولی او په ډېرو سيمو کې خلک لاهم له روغتيايی خدمتونو څخه بې برخې دی.دارزګان د ګيزاب ولسوالی يو اوسيدونکی محمدګل وايی ،چې دوی د ډېرو عادی ناروغيو د درملنې لپاره د ترينکوټ ولايتی رو غتون او ياهم کندهار ولايت ته ځی.نوموړی زياته کړه: (( په کليوالو او ليری پرتو سيمو کې روغتيايې مرکزونه نه شته که وی ډېر کمزوری ډاکټران لری .))په ورته وخت کې ځايی مسئولين هم منې چې په يو شمېر ليرې پرتو سيمو کې دامهال خلک روغتيايی خدمتونو ته لاس رسی نه لری.ددې ولايت د عامې روغتيا رياست رئيس ډاکټرمحمدالله روحانی وايی: په دې ورستيو کې تر ۱۰ روغتيايی کلينکونه د يوې موسسی له خوا جوړ شوی او ترڅنګ يې دوی د عامی روغتيا وزارت څخه د نورو روغتيايی مرکزونو د جوړېدو غوښتنه هم کړی ده.ده وويل: (( ځينو سيمو کې روغتيايی خدمتونه په ښه ډول نه رسيږی او ياهم په ځينو سيمو کې روغتيايی خدمتونه نه شته او بايد هلته کلينيکونه جوړ شی ددغه ډول ځايونو لپاره موږ هڅه کوو ،چې نوی کلينکونه جوړ شی دغه موضوع موږ له وزارت سره شريکه کړې او دا مسئله مو له يو شمېر روغتيايی مرسته کوونکو موسساتو سره هم شريکه کړی ده انشاالله دغه ستونزه به حل شی.)) له دې مخکې د لېرې پرتو سيمو اوسېدونکو څو ځله له حکومت څخه غوښتنې کولې، چې د دوی په سيمو کې ورته روغتيايی خدمتونه زيات کړی. احسان الله ولسمل

### اسلامي امارت هڅه...

ورته مهال په دغې کتنه کې د غزني د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس ملا حميدالله نثار وويل، چې د امارت په راتګ سره غزني کې هېڅ کومې رسنۍ خپل فعاليت نه دی درولی ؛ بلکې د پخوا په پرتله د رسنيو شمېر زيات شوی او د ياد رياست او خبريالانو تر منځ پوره همغږي موجوده ده. په همدې حال کې ملا خيرالله خيرخواه ژمنه وکړه ،چې د خبريالانو ستونزو ته به د هېواد په کچه رسېدنه وشي او د غزني د اطلاعاتو او فرهنګ رياست به د خبريالانو دوهم کور وي. خيرخواه زياته کړه، چې رسنۍ په يوه ټولنه کې د پله حيثيت لري او اسلامي امارت هڅه کوي ،څو د کورنيو رسنيو لپاره، له داخلي بوديجې داسې يو طرز العمل جوړ کړي چې دوی هم له حکومتي امتيازاتو څخه برخمنې شي.د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست وويل، چې امريکا او غربي هېوادونه هڅه کوي د افغانستان منفي انځور نړيوالو ته وښيي، خو دغه رسنۍ کولای شي، چې د هغوی د منفي تبليغاتو ځواب د افغانستان د رښتيني انځور په خپرولو سره ورکړي.

### حکومت دې ...

اندازه تاريخی ځايونه شته، خو د دغو ځايونو ثبت او راجستر او ساتنه تراوسه موږ نه ده ليدلې. داسې ځايونه شته ،چې په ټول افغانستان کې شته، په ارزګان کې هم شته، بايد په دې برخه کې د اطلاعاتو فرهنګ رياست او يونسکو نړيواله اداره پاملرنه ډېره کړی.))ځايی اوسيدونکی هم وايی: تاريخی سيمی د افغانستان ملی ارزښتونه دی او بايد حکومت د دغسې ځايونو ساتنې ته ځانګړې پاملرنه وکړی.د ارزګان دوه اوسېدونکی محمدعلی او احسان الله وايی: که په دغه ولايت کې شته تاريخی آثار له منځه ولاړ شی، بيا ځلی موندل به يې زيات سخت وی : محمدعلی: (( په ارزګان کې تاريخی سيمې زياتی دی چې تراوسه ورته پاملرنه نه ده شوې. بايد دغه ځايونه دولت ثبت او راجستره کړی.))احسان الله: ((دولت ته په کار ده چې په ارزګان کې چې کوم مې تاريخی سيمی دی، د هغو ساتنه وکړی او دغه تاريخی سيمی ثبت کړی ،چې په دې اړه بيا زموږ راتلونکی نسلونه هم پوهه شی.))د خلکو د دغو اندېښنو په اړه ،داطلاعاتو او فرهنګ رئيس قاری اغاولی قريشی وايی : دوی د تاريخی سيمو د ثبت لپاره له وزارت سره خبرې کړی دی او هيله لری ،چې دغه تاريخی سيمې ثبت شی.

نوموړی وايی: ((ارزګان ډېرې تاريخی سيمی لری، موږ دغه ټول معلومات له مرکز سره شريک کړی و. مرکز ته مو وړانديزونه کړی ، تر څو دغه تاريخی سيمې ثبت شی.))

ارزګان د هېواد له لرغونو ولايتونو څخه شمېرل کېږی ،چې د ارګوزيا له لرغونې سيمې سره تړاو لری او اوس يې هم په بېلابېلو ولسواليو او کليو کې تاريخی ځايونه شته.

### خرسندی صرافان هرات...

با رسانه ها ګفت: (( نرخ اسعار بايد ثابت باشد و باثابت بودن آن، تاجران ميتوانند قيمت اجناس شان را محاسبه کنند. اينګونه هم برای تاجر خوب است و هم برای مردم.))

شماری از فروشندګان توليدات ولايت هرات نيز از ثبات پول افغانی در برابر ارزهای خارجی استقبال ميکنند.

وحيد احمد، يکی از فروشندګان محصولات داخلی هرات ميګويد که، نرخ اجناس به دليل ثابت بودن نرخ دالر در بازارها تغييراتی نداشته است.

وی افزود: (( بيشتر محصولاتی که ما به فروش ميرسانيم داخلی است. مردم از اين محصولات راضی استند و به دليل ارزان بودن آن، از محصولات داخلی بيشتر استفاده ميکنند.))

محمد فرد ين، يکی ديګر از فروشندګان ميګويد، که با ثابت بودن ارزش پول افغانی، دکانداران ميتوانند با خاطر آسوده اجناس داخلی و خارجی را به دکانهای شان بياورند.

اومی افزايد: (( اګر پول افغانی از اين هم بيشتر با ثبات نګهداشته شود، رفاه بيشتر را در جامعه خواهد آورد و تاجران ميتوانند معاملات شان را بخوبی محاسبه کنند. اين باعث ثابت بودن در آمد در جامعه ميشود.))

به باور آګاهان اقتصادی، ثبات پول ملی در کشور دارای مزايای زيادی، از جمله کاهش تورم اقتصادی بوده و سبب متعادل شدن قيمتها در بازار و رضايتمندی مصرف کنندګان ميګردد. احمدی

### په لوګر کې ترافيکي...

ډوله بېنز موټر د چپه کېدو پېښه کې يوه مېرمن وژل شوې او څلور کسان ټپيان شوی دی.په ټپيانو کې د درېو کسانو روغتيايی حالت نازک ښودل شوی، چې د درملنې لپاره پلازمېنې کابل ته را لېږدول شوی دی.د يادونې وړ ده، چې په دې وروستيو کې د کابل-لوګر پر لويې لارې ټرافيکی پېښې زياتې شوې دی. عام خلک او موټرچلوونکی وايی ،چې د دغو پېښو د زياتوالی لامل د سړک خرابوالی او د موټرچلوونکو بېغوری ده.

# Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۱۰ ۲۵۲۶۳ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب: سایت www:dailies.gov.af/hewad
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹

یکشنبه د شوال المکرم ۱۷ مه ۱۴۴۴ ق کال د ۱۴۰۲ ل کال د غویي ۱۷ مه د 2023 م کال دمې ۷ مه


## د افغانستان بانک استازو د سارک د مالي مرکزی بانکونو په غونډه کې ګډون وکړ



د افغانستان بانک وایي، چې د دې بانک استازو د سارک د مالی مرکزی بانکونو د مشرانو په ۴۳مه غونډه کې، چې د پاکستان په پلازمېنې اسلام‌آباد کې جوړه شوې، ګډون وکړ. د افغانستان بانک د څرګندونو له مخې، دغه غونډه د مې پر دویمه جوړه شوې وه. په دې غونډه کې د ملی اقتصاد پر مهمو برخو، مالي شمولیت، سارک ډیتابیس، ورتیا لوړونې، د غړیو هېوادونو تر منځ د اقتصادی څېړنو تر سره کولو او یو شمېر نورو مهمو اړوندو موضوعاتو بحث وشو او په پایله کې جوته شوه، چې افغانی د نورو بهرنیو اسعارو پر وړاندې د سارک د غړو هېوادونو په منځ کې غوره ثبات لرونکی پولی واحد دی او همدارنګه افغانستان د انفلاسیون له باثباته نرخ څخه برخمن دی.

### د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست ملاخیرالله خواه:

## اسلامي امارت هڅه کوي چې کورنۍ رسنۍ هم د دولت له امتیازاتو برخمنې شي

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست ملا خیرالله خیرخواه غزني ته د خپل سفر پرمهال د دغه ولایت له مېشتو خبریالانو سره په کتنه کې وویل، چې اسلامي امارت هڅه کوي څو د کورنیو رسنیو لپاره، له داخلي بودیجې داسې یو طرزالعمل جوړ کړي، چې دوی هم له حکومتي امتیازاتو څخه برخمنې شي.په یاده کتنه کې د غزني د خبریالانو تولنې مشر ګلاب الدین امیري په دغه ولایت کې د خبریالانو او رسنیو په وړاندې شته ستونزي له ملا خیرالله خیرخواه سره شریکې کړې او اطلاعاتو ته د نه لاسرسي عامل یې په سیمه ییزو ادارو کې د مطبوعاتو په برخه کې د مسلکي کسانو نشتون یاد کړ.۵مخ



## سعودی عربستان د سوډان په جګړه کې د ښکیلو لورو ترمنځ د خبرو کوربتوب کوی



سعودی عربستان ویلی، چې د سوډان په جګړه کې د ښکیلو اړخونو ترمنځ دوی په لومړی ځل د مخامخ خبرو کوربتوب کوی او د سوډان د پوځ او د دې هېواد د ملیشه ځواک د استازو ترمنځ به د سعودی عربستان په جده کې لیدنه ترسره شی. د سوډان پوځ هم تائید کړی، چې د خبرو لپاره یې یو پلاوی سعودی عربستان ته لېږلی دی، خو د سوډان ملیشه ځواک چې د جګړې بل لوری دی تر اوسه په رسمی ډول په دې اړه څه نه دی ویلی. د سعودی عربستان له لوری په سوډان کې د جګړې د ښکیلو اړخونو ترمنځ داسې مهال د خبرو له پیلېدو څخه خبر ورکول کیږی، چې څو ځله په دې هېواد کې اوربند مات شو.

## چین ګانګ د پاکستان له ولسمشر سره د افغانستان پر وضعیت غږېدلی



د چین د بهرنیو چارو وزیر ((چین ګانګ)) په اسلام آباد کې د پاکستان له ولسمشر عارف علوی سره پر لیدنه کې په دې هېواد غږ کړی ، ترڅو د افغان ستونزې د حل لپاره له چین سره خپله همغږی او همکاری لا ډېره کړی او د افغانستان د بیارغولو سوله ییزې پروسې کې مرسته وکړی. د چین د بهرنیو چارو وزیر دغه راز په دې لیدنه کې زیاته کړې ده، چې چین چمتو دی د افغانستان په اړه له پاکستان سره اړیکې او همغږی پیاوړې کړی او د دې هېواد د سوله ییزې بیارغونې په بهیر کې په ګډه برخه واخلی. د چین د بهرنیو چارو وزیر ویلی، چې بېجینګ غواړی د ګډو هڅو له لارې په سیمه کې سوله او ثبات تامین کړی.

### د وسپنې پټلۍ اداره:

## د خپلو چارو د لا پراختیا لپاره هڅه کوو



په تېره یوه اوونۍ کې د وسپنې پټلۍ له لارې څه باندې ۱۱۲زره ټنه انتقالات ترسره شوی دی. د وسپنې پټلۍ اداره وایي، چې تېره اوونۍ د حیرتان، آقینې او تورغونډۍ د وسپنې پټلیو له لارې ۱۱۲ زره ۵۹۷ متریک ټنه توکی لېږدول شوی دی. په یاد توکو کې ۹۳۸ ټنه یې صادر شوی دی. د افغانستان د وسپنې پټلۍ ملی اداره وایي : دوی د هرې ورځې په تېرېدو د خپلو چارو د لا پراختیا او ښه والی لپاره هڅه کوی او موخه یې دا ده چې د هېواد سوداګرو ته ټول اړین امکانات برابر او معیاری چوپړتیاوې وړاندې کړی.

### د ارزګان اوسېدونکي :

## حکومت دې په دغه ولایت کې تاریخي ځایونه ثبت کړي



د ارزګان په مرکز او ولسوالیو کې دا مهال ۳۲ تاریخی او تفریحی ځایونه شته ،چې زیاته تاریخی مخینه لری. خو د دغه ولایت تاریخ پوهان وایي: په ارزګان کې ډېر شمېر داسې تاریخی ځایونه شته چې تراوسه له حکومت سره ثبت نه دی او ډېره لویه تاریخی مخینه لری.په ارزګان کې لیکوال او شاعر غلام نبی شجاع وایي: د ارزګان په مرکز او ولسوالیو کې ارزښت لرونکی تاریخی آثار موجود دی او دا مهال په چټکۍ سره د عامو خلکو له خوا له منځه وړل کېږی.دی غوښتنه کوی چې دغه تاریخی ځایونه دې د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ثبت او خوندی کړی. نوموړی وایي:(( په ارزګان کې په زیاته ...۵مخ

### د روغتیا نړیوال سازمان:

## کورونا وبا نور بېړنی نړیوال روغتیايي وضعیت نه دی

د روغتیا نړیوال سازمان ویلی، کرونا وبا، چې په تېرو درېیو کلونو کې یې د میلیونونو انسانانو ژوند واخیست او اقتصادی کړکېچونه یې رامنځته کړل، نور یو بېړنی نړیوال روغتیایی وضعیت نه دی. د روغتیا د نړیوال سازمان رئیس ډاکټر ادمانوم ګبریسوس ویلی، چې دغې ناروغۍ په نړۍ کې د نږدې ۲۰ میلیونو انسانانو ژوند اخیستي دی. د کرونا ناروغانو د مړینې دغه تازه شمېره له مخکنیو رسمی اټکل شویو شمېرو څخه درې برابره لوړه ده. په دې اړه د روغتیا نړیوال سازمان د فنی څانګې مسئول، ماریا ون کرخوف وویل: په داسې حال کې چې د کرونا وبا له منځه تللې نه ده، یواځې پرېکړه وشوه ، چې په دې وبایی ناروغۍ پورې تړلې د نړیوال بېړنی روغتیایی وضعیت پای ته رسیدل اعلان شی.

## خرسندی صرافان هرات از ثبات پول افغانی در برابر ارزهای خارجی

مسئولین اتحادیه صرافان و خدمات پولی در ولایت



هرات از ثبات پول افغانی در مقابل ارزهای خارجی استقبال می‌کنند.
آنان می‌گویند که ، بانک مرکزی افغانستان برای ثابت نگهداشتن ارزش پول افغانی در مقابل ارزهای خارجی، هر هفته میلیون‌ها دالر امریکایی را در بازار به لیلام می‌گذارد.
غلام محمد سهرابی، رئیس اتحادیه صرافان و خدمات پولی هرات می‌گوید که، درمقایسه باپول کشورهای همسایه و منطقه، پول افغانی ارزش خود را حفظ کرده است.
وی می افزاید: (( بانک مرکزی افغانستان همیشه دست از کنترول بازار برندارد. ما از مقامات خواستیم تا پول (دالر) را در چهار شهر بزرگ به لیلام بگذارد تا واجدان شرایط در چهار شهر بزرگ در پروسه لیلام شرکت کنند.))
با این همه تاجران و سرمایه گذاران در هرات، ضمن ابراز خرسندی از ثبات پول افغانی در برابر اسعار خارجی، می‌گویند که اینگونه آنها با اعتماد بیشتر می‌توانند در کشور سرمایه گذاری کنند.
نعمت‌الله احمدی، یکی از تاجریان هرات در صحبت ...ص۵

## په لوګر کې ترافیکي پېښو ۸تنو ته مرګژوبله اړولې



د لوګر ولایت چارواکی وایي، چې د کابل-لوګر پر لویې لارې د دوو ترافیکی پېښو له امله اتو کسانو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده. د لوګر ولایت د امنیې قوماندانی ویاند احمدالله انس رسنیو ته ویلی، چې ورمه ورځ مازدیګر مهال د محمداغي ولسوالی په ((کدې)) سیمه کې یو موټر او موټرسایکل سره ټکر شوی له کبله یې یو کس وژل شوی او د یوې مېرمنې په ګډون، دوه کسان ټپیان شوی دی.د نوموړی په خبره، ټپیان د امنیتی ځواکونو له لوری روغتون ته لېږدول شوی دی. دی زیاتوی ،چې پېښه د موټر او موټرسایکل چلوونکو د بې‌غوری له کبله شوې ده. بلخوا د محمداغي ولسوالی اړوند د کابل دروازې ته څېرمه د ((دښت سقاوي)) په سیمه کې عینی شاهدان وایي، چې د یو کرولا ...۵مخ